2015-11-01

Samhällsvetenskapsprogrammet




# د ټولنیزو علومو پروګرام

Skolverket

Utbildningsinfo

PASHTO

**د ټولنیزو علومو پروګرام لوړو زده کړو ته د چمتووالي پروګرامونو د جملې څخه یو پروګرام دی چې لوړو زده کړو ته د چمتووالي د پروګرام برې لیک ترلاسه کولو ته لاره هواروي.**

دا پروګرام د هغو خلکو سره لګېږي څوک چې دې سره لېوالتیا لري چې په اوسنی زمانه کې د انسان ژوند او ټولنه څنګه په مختلفو شکلونو چلېږي او پرمختګ کوي. نوموړې دوره په پوهنتون کې د ټولنیز علومو پراخه چوکاټ دننه د لوړو زده کړو ترسره کولو لپاره بنسټ جوړوي.

## درې بېلا بېلې څانګې

### سلوکي علوم

- تاسو به د انسان پرمختګ، ټولنیز ژوند او متقابله مرستې په اړه پوهه ترلاسه کړئ. تاسو به په دې اړه چې انسانان د یو فرد، د یوې ډلې غړي او د ټولنې وګړي په حیث څرنګه خپله دنده ترسره کوي، خپله پوهه پراخه کړئ. تاسو به د اړیکو، پوهنې اومشرۍ په اړه زده کړې وکړئ.

### رسنۍ، اطلاعات او اړیکې

- تاسو به په ټولنه کې د رسنیو کردار، د رسنیو تخنیک، ژورنالیزم، مالوماتو، اعلاناتو او د تعاملي اړیکو بېلابېلو بڼو په اړه پوهه ترلاسه کړئ. تاسو به په دې اړه ژوره مطالعه وکړئ چې رسنۍ په کوم ډول د انسانانو نظر او د نړۍ چارو په اړه ادراک تر اغېزې لاندې راولي.

### ټولنیز علوم

- تاسو ته به د ټولنې جوړښت او د انسانانو د ژوند شرایطو په اړه پوهه ترلاسه کړئ. تاسو به د تعبیر، تشریح او د ټولنیزو علومو میتودونو څخه ګټه پورته کولو له لارې د بېلابېلو ټولنیزو مسایلو په اړه خپله پوهه کې ژوروالی او پراختیا پیدا کړئ.

### تاسو به دې پروګرام کې لاندې مهارتونه ترلاسه کولی شئ

تاسو به د سویډني ټولنې او د نړیوالې ټولنې شرایطو په اړه خپله پوهه کې پراختیا ومومئ. تاسو به دا زده کړئ چې یو فرد او ټولنه څنګه یو پر بل اغېزه لري او د تاریخ په اوږدو کې د انسانانو د ژوند په شرایطو کې کوم ډول بدلونونه منځته راغلي دي. تاسو به د یو فرد، د یوې ډلې غړي او د یوې ټولنې اوسېدونکي له پلوه د انسان ژوند ته ژوره کتنه وکړئ. تاسو به د ټولنې جوړښت، فعالیت او کردار په اړه زده کړه وکړئ. تاسو به اړیکو، اخلاقو، جنسیت، چاپېریال او د اقتصادي، اجتماعي او سیاسي اړخونو څخه ځواک (قدرت) ته ورته مسایلو ته ژوره کتنه وکړئ.

## نوموړی پروګرام په لاندې ډول ترتیب شوی دی

د ټولنیزو علومو پروګرام په چوکاټ کې د ثانوي (لېسې) دورې عمومي مضمونونه په دا ډول دي: انګلیسي، تاریخ، بدني روزنه او روغتیا، ریاضي، طبیعي علوم، دیني علوم، ټولنیز علوم او سوېډني او یا سوېډني د دوهمې ژبې په حیث. لوړو زده کړو ته د چمتووالي پروګرامونه د حرفوي پروګرامونو په نسبت زیاتره د نظري کورسونو څخه تشکیل شوي وي.

د پروګرام ځانګړي مضمونونه دا دي: فلسفه، عصري ژبې او اروا پوهنه.

تاسو به فرصت ولرئ چې د خپلې خوښې پروګرام کې تخصص او ژوره پوهه ترلاسه کړئ. دا مرحله د پروګرام اختصاصي مضمونونو په نوم یادېږي. اختصاصي مضمونونه د مثال په توګه له دې مضمونونو څخه عبارت وي: رسامي، دیجیټل تخلیق، فلم او تلویزوني تولید، فلسفه، جغرافیه، ګرافیکي اړیکې، پایداره ټولنه، حقوق، هنر او کلتور، مشري او اداره، د رسنیو اړیکې، عصري ژبې، ښوونه او روزنه، ارواپوهنه، ټولنیز علوم او ټولنپوهنه. د مربوطه ښوونځي سره اړیکه ونیسئ چې د اختصاصي مضمونونو لپاره کوم مضمونونه وړاندې کوي.

تاسو اختیاري مضمونونه هم لرئ چې له دې لارې خپل د خوښې مضمون لوستلی شئ. د ښوونځي څخه پوښتنه وکړئ چې کوم کورسونه لري.

## عملي کړنلارې

تاسو به د دې پروګرام په برکت خپله د علمي او تنقیدي جاج اخیستنې وړتیا غښتلې کړئ چې له دې لارې به دا زده کړئ چې څنګه د تشو دعوو او واقعیت ترمنځ فرق وکړئ او د بېلابېلو سرچینو کره والی د ارزونې لاندې ونیسئ. تاسو به سرچینو ته د تنقیدي نظر له لارې د مالوماتو راټولول او چاڼول ترسره کوئ او په پای کې به ورڅخه ګټه پورته کوئ.

تاسو به د همکارۍ، تخلیق، په خپلواکه توګه کار کولو، د مسئولیت پر غاړه اخیستلو، د امکاناتو په نښه کولو، ګام اخیستلو او مفکورو ته د عمل جامه وراغوستلو په ډګر کې خپله وړتیا لاپسې غښتلې کړئ.

## د ثانوي دورې پایلیک

تاسو به د ټولنیزو علومو پروګرام په پای کې د ثانوي دورې پایلیک لیکئ. د ثانوي دورې پایلیک لیکلو په لړ کې به د پروګرام علمي موضوعګانو د شمېر څخه یوه پراخه موضوع خوښه کړئ او د هغې څخه به یوه یوه پوښتنه راپورته کړئ، طرحه به یې جوړه کړئ، تطبیق به یې کړئ او بیا به یې په هکله یوه څېړنه ترسره کړئ.

## د پام وړ

که چیرې تاسو د لوړو زده کړو ځانګړي شرایط پوره کول غواړئ نو اړینه ده چې مخکې له مخکې د خپلو زده کړو لپاره یو پلان جوړ ونیسئ. که چیرې تاسو وړاندې په پوهنتون کې د لوړو زده کړو هوډ لرئ نو د لارښوونې لپاره د زده کړو او مسلک لارښود سره اړیکه ونیسئ.

تاسو تل حق لرئ چې د بدني روزنې او روغتیا او د هنري کورسونو د جملې څخه یو کورس د اختیاري مضمون په توګه هم خوښ کړئ.